یو نیم ملیون غاټول که د بګوا په دښته شنه شي
دا ډاګ به سور چکن شي زرغونه ړنا به کاندي

ماوې د تا په قبر به ډیوې روښانومه
ماوې چې دا ببر سر به په شناختې درته ږدمه
ماوې چې ستا کېن به په تودو اوښکو پرېولمه
ماوې چې د جمعې شپې ستا مزار کې تېرومه
ماوې ستا د جامو سره د زړه خواله کومه
چې تا قدم پرې ایښی وي هغه ځای ښکلومه
خو قسمت بله راوکړه !
په یو سر د دنیا کې ته د خاورو میلمنه شوې
او زه د دنیا بل سر کې دعا درته کومه

۱۹۸۲ ع
ډنمارک

دمهاجرخوب

خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مانه
پروت یم سر مې ایښی دخپل یار په زنګانه

سر په بالښت ایښی تش کالبوت په واشنګټن کې و
روح مې په مزو مزو روان په خپل وطن کې و
واورې دسپین غره وې چې په تنده مې سوېلې
خاورې دوطن وې چې په سر مې بادولې
مرې اوښکې روانې وې په مخ دانه دانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکې مانه

ډنډ د شمالي ته شوم انګور ميزان وهلي
تاک شینکي زیړ چکي شو تالان پرخو پرېوللي
کوز تګاو ته لاړم داغوزو لويې ونې
پاس وختم غره ته د خېړېو پاسنې پلنې
خلک وو، بازار وو، شور ماشور وو، تله راتله وو
مېږې وې، شپانه وو، هياهوی وو، سړاوښنه وو
نه د وېرې وه نښه، نه د غم وه نښانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکې مانه

بيا مې شو ګذر لکه ګوربت په لوی سالنګ
وېرې مې وزرې وې په څوکه په ګړنګ
واورې سپينې سپينې ځلېدې لکه سپين زر
کوز رمې اوبه وې، پرېوتلې لر و بر
زرکو او بلبلو يې په ترږکې سندرې کړې
مستې زړې هوايي اندېښنې له زړه لرې کړې
مورکې ځلېدلې لکه زلفې په شانه
خوب وينم عالمه که يې څوک راکې مانه

خوب وينم: باغچه وه ټوله شنه په څنارونو
مينځ کې يې صفه وه، ټوله پټه په ټغرونو

خوا کې یې ویاله کې د رڼو اوبو تړپونه وی
زه یمه یاران وی، چمنونه، مجلسونه وی
بره خوا پټو کې شولې شنې باد ته اچوی
خپل وی د چنچنو، تیتې الوزې اتڼ کوی
ځمکه او اسمان په ګډه وایي ترانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي ما نه

خوب مې په وطن کې دی، خوړدن مې په وطن کې دی
خوب کې یې هم مړمه، ځنکدن مې په وطن کې دی
قبر په وطن کې، جنازه مې په وطن کې ده
تن مې په وطن کې دی، کپن مې په وطن دی
ما ته تابوت مه جوړوئ، ما ته کالان مه راوړئ
روح مې په وطن کې دی او تن مې په وطن کې دی
ګوندې یو شپونکی وطن قبول کړي نذرانه
خوب وینم عالمه که یې څوک راکي ما نه

۱۹۸۵
واشنګټن

ژانه

ستا اوږده اوږده وزرونه، هندوکش له څوکو جګ دی
لنډ وي اوږده منزلونه ، چېرته څې کله رسېږې

ستا اوږده مشوکه ډوبه ، نن آموکې بیا سبا ته
د سپین غره د سر ډنډ وکې مسته مخچولېږې

الوتوکې راښکې زانګې څه ګېنډي وهي اسمان ته
چې سیلۍ څومره سختېږي ته په شوق ورته نخښېږې

د نیلي اسمانو پېغلې، ولې دومره جګه ګرځې
راته ښکاري پښتنه یې له زلمیانو نه شرمېږې

تور اورېځ د پسرلي کې چې باران نم نم ورېږي
ته زموږ د کلا شا ته، توره شپه کې راکوزېږې

زه یې اورم چې ته بولې، ها خوږې خوږې بدلې
زه یې ګورم چې ته خاندې او بیا ورانه ورانه کېږې

چې ته بیا وزرونه د هکې کاشکې ما درسره بوځې
بې وزرو درته ګورېږي زانه کې! ته نه پوهېږې

کاشکې ما وزر لرلای چې سهار درسره لاړ وای
څه ښه خوندکا چې آموته، هندوکش نه ورښوېږې

څه د تالندې مټروکې، د آسمان مخ ورشین کړې
چې د اوښکې دانه کې شوې او کرار کرار بهېږې

کابل ۱۹۶۰

له خپل ځان سره راز او نیاز

شپه چې پخه شي کاونډي ویده شي
چې د موټرو آواز ودرېږي
زه د خپل کټ ته مخ کونډي ووهم
اوښکې مې مړې مړې په بارخو ښوېږي
شونډې مې ښورې خواواز نه لري
او دا شکرونه مې له زړه نه وځي
چې یه زما روحه له تا شکریه
چې لا تر اوسه غاړه هسکه ساتې

ARIC
B
3.532
SHP
982

DEW DROP ON A SAGEBRUSH

(Parkha Pa Tarkha)

Poems

by

Saduddin Shpoon

Writers Union of Free Afghanistan

Series No. 52

1990

IRC Printing Press

چې د امید په باغ خزان کړه شي
چې په شنو پاڼو زېړې ولګېږي
چې د مالیار مخ په ګرد و پټ شي
چې د بورا وزرې وسکڼېږي
زه لکه سروه غاړه جګه ساتم
د حوادثو د کوتکو لاندې
مې سرمات شوی خوکوږ شوی نه دی
داوړ دوشپو په شومه دم کې وایم :
چې یه زما روحه له تا شکریه
چې لا تر اوسه غاړه هسکه ساتې

۱۹۶۰
کابل

زه د شپې له تیاریکې سره آشنا یم

زه د شپې له تاریکې سره آشنا یم
زه د تورې تروږمۍ سکنې وروریم
ما د سولې په سندرو للو نه کړې
زه د جنګ ترانې بولمه سوراوریم

ما د خپل وطن شینکی اسمان لیدلی
چې د زانګو په کې جوړ وو امیلونه
اوس د برګو الوتکو له منګولو
ترې تویږي په خروار خروار بمونه

ما لیدلي دي ټټې دوه شپېته ټانکونه
په کړچار چې یې ټول غر او کمر ښوري
چې په کلي راشېوه شي مېندې رېږدي
ماشومان زبون وهلي ورته ګوري

ما لیدلي دي الوتي جوماتونه
ما ښکل کړي د قرآن سپېڅلي پاڼې
ما ټول کړي دي د ورور پرې اندامونه
ما په میاشتو ګوزاره کړه په مماڼې

زه د هو مستو بانډو ښه وندی شاهد یم
اتڼونو بې چې مځکې لړزولې
اوس د تشو کنډوالو کچکول په غاړه
صورت سوی، جومات مات، ګروپې شلېدلي

چې حیا لکه غوټۍ پلو کې نغښتې

ما لیدلې دي هغه درنې بیبیانې

اوس یې ګورم دیوې خیمې په تمه

لا لهاندې، سرګردانې، لیونیانې

نو،

زه د شپې له تاریکۍ سره اشنا یم

زه د تورې تروږمۍ سکنې ورور یم

ما د سولې په سندرو للو نه کړې

زه د جنګ ترانې بولمه سور اور یم

۱۹۸۲ ع

ډنمارک

د افغانانو غږ روسانو ته

راشه چې داغرونه دي د هر قدم او څار دي
ثاته د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
موږه هم په هسکه غړې ستا راتګ ته ناست یو
موږه ښه پوهیږو چې سرونه دي په کار دي

راشه چې موږ هم هم دې شیبې ته ورکتلي دي
تا په دې وطن کې ډېرې وینې بهولې دي
دلته به د ټول جهان میړانه خپل سیال وګوري
دلته موږ هودونه او لوظونه ازمېیلي دي

ته د ماشینو نوا و پولادو په ښنو تلل کوې
ستا میړانه داده چې د زهرو ورکول کوې
تاسو کې خو داسې کوم باتوړ هرګوره نه وینم
(چې)
کانې دې په لاس کې وي په ټانک باندې یرغل کوې

ته که زما سر غواړې زما هم پرې رضا ده
دومره به دې یوه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
داچې بربړ وایم دا په دې چې مې سر لوړ دی
ټوله روسیه که ټیږې داو کړې هم وړیا ده

دا سر غوڅېدای شي خو بنده ته ټیټېدای نه شي
دا سر د هغه دی چې په توپو تم کېدای نه شي
زموږ د کولیو له باړې نه ستړې نه سوځي
زموږ عمرونه لنډ دي یوه ورځ او بندېدای نه شي

راشه چې لیمه مې آخري ننداري وویني
سترګې مې یوځلې ستا دوینو داري وویني
ستا دغریبې ، مساپرې سلګۍ چې واورمه
ستا دنامردې ، نامرادې کوکارې وویني

دا ښکلی وطن دد ښمنانو هنر پېژني
توره مې سر پېژني ، ګولۍ مې ټټر پېژني
دې ښکلو دروکې مې پردې ته ژوند حرام دی
بوټي مې سپر پېژني او کاڼي سنګر پېژني

نو ،

راشه په تلوار چې دخلاصون لارې ترلې دي
دې ترې وطن تل دپردو وینې څښلې دي

د هجرت لومړۍ هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلیدلی کټکټکی په کوټه کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

په دیوال نړۍ اوبه کوز رابهیږي
اوري شړکنده دبام په سر باران

د ښادرلاندي مې لورغیږ کي ویده ده
چې ساړه شي نښلوي راپوري ځان

خدای خبر دی د هغې مرغۍ له حاله
چې صیاد یې دړې وړې کړله ځاله

زه به هم کله منګولې راپیدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم د ناز پالنګ حرام کړم
خیر که اوس په میږتون باندې څملم

اوس مې وینې چې په خاورو ګنډل کیږم
داسې هم وه چې په سر و به دې تللم

ما د مار سره یاري کړه ځکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم

« په بچو مې یو ښامار د هر زور ور دی
هیڅ علاج یې نه راځي صاحب کمـا له »

زېړې داړې یې دوزخ ته دروازې دي
له سرو سترګو یې بهېږي لعنتـونه

له دنیا چاپېره کوارې وارې پروت دی
اچوي په بنیادم باندې روبونه

دا ښامار له آمو پورې غاړې اوسي
نه پاړو پړې اثر کاندی نه دمونه

په ناولې خوله د غم سندرې وایي
په ښوزي یې لګي وهي اورونه

په هر ځای کې چې د ده څېره ښکاره شي
پرې بهېږي د سرو وینو لوی رودونه

نه د خدای په مځکه څوک ترې بچ کېدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هوا له

یه دلویو غرو کور بته کیسه واوره
د بې کوره مسافرو شنو توتیانو

د کابل خوږه میوه مې پېرزو نه ده
په ناولو نابللو شورویانو

د سالنګ سړې اوبه مې نه لوړېږي
د ماسکو په کرغېړنو تپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کېږي
زه راغلی یم جرګې ته د مارغانو

ټول راځي چې په وړوکانو یې ولو[۱]
دا ښامار نه ایساریږي په شوکانو

د بې وزلو توتکیو تکیه خدای ته
چې یې جنګ دی له مردارو کجیرانو

یا به دا خوني ښامار په کانو پټ کړو یا به ورانه کړو درستې نړۍ ځاله

۱۹۸۰/۱/۱ پېښور

---

(۱) ترمیهم بحجارة من سجیل - مبارک آیت ته اشاره ده.

د زماني پير

يو وخت د سولې وي　　　بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستې خندا　　　بل وخت د ننګ شي

کله د کلو محشر سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې وار د پتنګ شي

چې درنه درومي اشنا د شپیلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي د رباب ترنګ شي

چې زړه ځوریږي ستړکي شي دانارو داني
چې زړه نشه وي ستړکي پیالې د بنګ شي

یوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وځوریږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

۱۹۸۱
پېښور

جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اتڼ د سور بورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

د وطن بنګلو بنګلو لمیانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ د خوږیدو پاکي لمن ته
د شهوت لاس وړي دغه ناولی

یو پلو سوله ده، غلامي ده
بل پلو جنګ دی، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولي چي نوم وانه خلی
په موږ راغلی آیت د جنګ دی

۱۹۸۲
ډنمارک

درقه مه هیروی!

دا نظم په ۱۹۶۳ع کې ليکل شوی و. هغه وخت کمونيستان په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه» کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سليمان لايق تبصره دا وه :
" له دغه نظم نه داسې انګيرل کيږي چې ګوندې شوروي اتحاد به د نورو هيوادو د خاورې لاندې کولو ته ايښي وي .
حال دا چې د امريکا پر خلاف ، شوروي اتحاد تراوسه د چا يوه لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې "
درقه د پنج «آمو» په سينه کې پروت يو تاپو دی او دا آزاد شعر هاغلته د سځلو دځنګله په مينځ کې ليکل شوی دی.

زما په قبر به لاله زرغون، وي
خوزما داخبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سيندونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی داغرنو ونو
هغه ځنګل دافغانانو مال دی
چې يې اوبه درنه رالاندې نه کړي

د "پنج" او بوکې لاهو شوی ځنګل
ما يې خونکارې ژامې وليدلې
چې پرانستلې دي درقد له پاره
دا ينځه سرې نسا مارزه پېژنم

لا مار ديګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بيره رمې کورته بيايي
هرڅوك له کنو ځنګلو لار چپوي
دا شين ځنګل په ځناورو سپاري

د تورې شپې کېږدۍ چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخيژي
زمري راوځي د ځنګله له تيارو

د سور لنډیو آوازونه راځي
خو سپي له ویرې ځواب نه ورکوي
توره تیاره کې د هر بوټي له شا
دځناورستر کې رڼې ځلیږي

له هرې ونې نه شیبه په شیبه
دکونګ وېرجنه ساندې غوږ ته راشي
له هرې خوا نه خوځیږي سیند ونه
لکه بار شوي اوښان وېرېږي

ما هندوکش په سر منزلونه کړي
شپې مې په ښخو کې خوبونه کړي
خو د درقد فضا څه بل شانې ده
زه یې په ځان باندې شګمن غوندې کړم

لکه اشنا چې زه هېر کړی یمه
یو له نظره غورځېدلی تما پو
دحوادثو په منګولو کې ګیر
له وطنوالو نه په څنګ پاتې دی

زما په قبر به غاټول شين وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته ليرې د سيند ونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی د اغزنو ونو
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول موقسم
چې يې اوبه درنه رالاندې نه کړي

١٩٦٣
د درقد تاپو - تخار

د پېړۍ چلنج

بیا وشول په موږ باندې غږونه د پېړۍ
بیا زلمو را واخیستل ټوپک او ګردنۍ

بیا نجونې د لوړو غرونو څوکې څارې
بیا کوز راورېږي په لمن لمن بڼلې

بیا ښامار راغلی له بدرئ نه چارچاپېر دی
بیا ورته په غشي ملوک خان راکاږي ژئ

بیا دښمن راغلی په دې مسته خاوره
بیا په ښاز لمو شولي حلالې د مور پېغ

اوري له آسمانه د لعنت دغضب اور
ځکه راخوټېږي لکه سوزنده تبۍ

نن به د تش لاسو او د ټانک مقابله وي
ګورو به چې دا خاوره زمونږ ده که پردۍ

۱۹۸۱
پېښور

د هجرت شپږم کال

سترګو ته د خیال چې د وطن ښکلې څېره راشي
وتر تمه سل ځلې که او ښکې په ستنه راشي

دا ماشوم زړګی که سل د شکو مانۍ جوړې کړي
هو لې ورژیږي چې د غم یوه چپه راشــــي

شپږ کاله په خوب کې او په ویښه په وطن کې یم
ورځ بیا ګذران وشي، بېچاره شمه چې شپه راشي

شپه توره بلا ده، شپه خپسه توره دوږه ده
غم راشي، کړاو راشي، سودا راشي، غوسه راشي

شپه د بې دردیو، نامرادیو، اسویلو مور ده
کټ راته تنور شي له برېښتني سره لمبه راشي

١٩٨٥
ویرجینیا

ماشومتوب

زه هم یو وختې ماشوم وم   ببرسر کنداس غاښسو نه
سره غومبورې چاودې تلې   مات نوکان خیرن لاسونه

پہ باغو بہ گرځیدمہ — هره څانګه زما تال و
چې آلو به سره بخن شول — په هر باغ کې زما مال و

ما په توري تروږمۍ کې — تورا ینځر شو پیژندلی
ما په پټو سترګو ځان خپل — له ویالو شو تېر ولی

یو وړوکی کټ مې ځای و — یوه پښه یې وه د خبنستو
لنګه نه، بازو یې کوږ و — نه پرې ځای و د بالښتو

شپې به پرېوتم په ځای کې — تول وجود اغزو خیر لی
مخ په څانګه شوکې شوکاري — سر په تېږه لګېدلی

پرېوتل ویده کېدل وو — نه به ځان نه به جهان و
نه به درد د ستوماني و — نه به ځمکه نه آسمان و

اوس سپېڅلی مېزته ناست یم — سبه زما بنایسته خونه
خوا کې نرم پاک بستر دی — پرې یې د پرو بالښتونه

اوس چې دغه کړنې لیکم — نیمه شپه ده لا تېرېږي
ګاونډي یې تول ویده دي — زما سترګې نه پټېږي

ای شلیدلی کټ ګکیه   نور به څه په کې ځاینږي
ګاونډي ټول ویده دي   او زما سترګې نه پټیږي

ای شلیدلی کټ ګکیه
ای شلیدلی کټ ګکیه

۱۹۷۰
کابل

شیطان

ثوکځ يې دغه ثوکځ يې چې مې هره شپه څارې
پرېږده نورمې پرېږده ، ما غریب مه ځوروه
سیوری خومې نه يې ، زه په دغه بڼه نه یم
مه راپسې ګرځه نوره خپله لیار کوه

شپه ستړي ستومانه دکتهکي دپاسه پرېوځم
خوب مي په شیبوشیبو له ځانه هیروي
سبه چي خوبن ویده شم ستا ویرژلي ځېره وینم
بس دغه لیدن دی په ما شپه سبا کوي

چا ته ویلی نه شم چي یوسیوری راپسي دی
ته مي هم ټوکي هم مي ګناه ته لمسوي
داما شوم زړګی مي له ګوګل نه راوباسي
تش جام ورته نیسي اویو رنګ یي کړنګوي

زه هره مسره لکه ابدار توره کاږم
ته پري دمظلوموسینه ګی شیري کوي
زه ورته بنا یسته پښتني ګنډم په مری ډک کړم
ته یي دلذت له پاره بیرته ورشلوي

شپه چي بنه پخه شي، تاریکي شي، چوپیاپي شي
هار د آرزوګانو په قلم باندي پیېیم
زه وایي شپنه هغه غمونه دي اوس نه شته
لیري چېرته غږشي چي شپونکیه پام کړه یم

اوس هم کله وایم چې وړوکی وای ژړنکی وای
لاس په ږیره راکاږم اوس وریږن دوم
ځکه شم دېواله ته په هینداره کې ځان ګورم
ځان نه وینم تا وینم هینداره ما نتوم

دوطن له وريځو سره خواله

يه وريځو وريځو دوطن وريځـــو
لږ ځه ستنې شئ زه هم درځــيږم
ما ته ځای راکړئ په پسته غـيږ کې
يو سورخاپوړی يم سبا شپه ربــږم

په ورځو ورځو لېږ په کرار ځي
زه د رته ګورم زړه مې ويلېږي
کوز هديره ده زه په کې ناست يم
د سرو بېرو وسانده غېږي

په ورځې ورځې دلته دوزخ دی
راکوزه نه شې تا به ايرې کړي
ژوندي وګړي چې سر راجګ کړي
دويم قدم يې په هديرې کړي

په ورځې ورځې د وطن ورېځې
د تاله مستې برېښنا نه ځار شم
يوه لمبه به راپورې نه کړي؟
چې يا ايره شم يا سور انګار شم

په ورځې ورځې دا خلک ګوره
دا په نس وږي دا په زړه سوي
دا درېځلو دا د ويشتلو
نګېروي خواوري که نور څه نه وي؟

ما دراوچت کړه له دغې ځکې
دلوېږو غرونو څوکو د پاسه
زه يو خاېتول يم په ملامات شوی
ديو بې باکه ماليار له لاسه

تاوروليې د ژوند اوبه وې
موږه داوښکو سېلاو ترې جوړ کړ
تازرغونه کړل د ښتې لا ښونه
يو څو خونکارو ارمان پرې موږ کړ

زه به هم کله وزر پيدا کړم
ماتې به زه هم دا هستکړې کړم
بيا به نو تا ته پورته درخېژم
تا به درياب کړم ځان به بېړې کړم

بيا به نودواړه سره روان يو
د دې نيمګړې دنيا د پاسه
سره به وکړو سره به وايو
چې څه زموږه کيږي له لاسه

موږ به په ګلستو پرخپې خوري کړو
خو په اغزيو به ژوند حرام وي
ګلان به پاپي اغزي به ږيږي
د دوی برچې به د دوی په ځان وي

موږ به د دښتې خاټول بيا سور کړو
خو په زړګی کې به تور داغ نه وي
موږ به باغونه بيا زرغونه کړو
خو په باغونو کې به تور کاغ نه وي

بيا راكوزيږم د محکې سر ته
داخپل ټاټوبی ډېر راته ګران دی
څوک چې له محکې نه تيښته وکړي
هغه وګړی ډېر سرګردان دی

محکه د ميني پاکه زانګو ده
ژوندون په محکه يولوی نعمت دی
محکه کې ژوند دی ، محکه کې خلک
ژوندون تر هر بل نعمت اوچت دی

انسان شهکار دی خوچې ژوندي وي
په اسمانوکې انسانان نه شته
انسانان خپلو ځمکوکې پايي
د وطن خوند ته هيڅ پايان نه شته

۱۹۷۵

کابل

دروسي عسکر و د تلوو ځ

ای د نړۍ خلکو نن تاریخ بیا لیکل کېږي
دوه ستر کې څلور کړې، داوړ ځ بیا نه لیدل کېږي
دې شاهکار ته حیرشي دا په هر ساعت کې نشته
څوقرنونه تېرشي څود انوربیا وچلېږي
نن دآزادی مشال یاغي یاغي شغلې کړي
نن په خړ ښادري افغان تول جهان نازېږي
نن میرویس وباسي دلېښن ځني کوکاري

هر زور ته قالب شته هر فرعون ته یو موسی
حق د زور قالب دی د جادو ایمان دوا
څنګه چې لوی درمن ته وروکې سپرغی بس ده
هسې سره بنا مار ته خړه کی افغان پیدا
مه ستا په دستروقدرتونو توره ما ته
نه سوځي د حق سترګې له تالندې برېښنا
حق په دنګو غرونو خپژولي خپلې لارې

ته په موږ نا لوستو، شړې یوشوغولیدلی وې
ته زموږ خوارې او ساده ګي دېر تېر ایستلی وې
تا زموږ په لاس کې یوم لیده، تور دې نه لیده
سپور وې د غرور په تا نک کې نو له عقله پلی وې
ستا د ایماندارو او خپلوا کو سر نه و
ته په سوله ییز و مظلوما نو نبه غښتلی وې
چا نه وې څیرلې ستا ظالم ژامې خونکارې

ویرجینیا
۱۹۸۹ ع

دمجاهد بې وفا يار

ستا د ستركو شوبلې راغلي
دزړه كلي ورانـــــوي
كړې وروځې نرۍ مـــلا دې
پښتانه روســـانوي

که هرڅو درنه پناه شم
دخپل زړه سترو اخفا کړم
ستا ظالمې غبن چې راشي
سمه غر روښانوي

یو ورک نوی کلیوال وم
یو تش لاسی مجاهد وم
اوس مې نوم په درست جهان کې
عاشقان ګردانوي

زما د زړه په توره بوره
ستا برګې کړې ګوزارونه
که همت راته ستمینګر شي
د زړه کار اسانوي

په رګ رګ کې مې کړلې
تا ظالمې پټ ماینونه
ربه داسې سترګې راکړې
چې پټ ماین عیانوي

ستا دحسن باچاۍ مې
ټول وجود کنډوکپر کړ
زړه مې هسې سلطان غواړي
چې يې بيا ودانوي

ويرجينيا
١٩٨٧

دکوکچې دسیند په غاړه

نسیم د سیند په غاړه جوړې کړي نازکې چپې
لکه اشنا چې کله واغوندي نیل رنګه جامې
بیا یې له ملا نه ترلمنې پورې کوټ کوټ کړي
تر زنګانه یې راخوره کړي بیا یې ونغاړي
زه ورته جګ په ګاره ناست یم او موجونه ګورم
او تا ته وایم داسرې دامیدونو ربه !
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

زګونه خوله کې زړه کې شور هره ذره انقلاب
په رنګ رنګې په خوند خوږې په روح زما هیداره
نه په سرپل، نه په پښو بند نه یو لو ښت نیمګړي
زه په دې ځخاسته او پتو پوکې داستانونه ګورم
او تا ته وایم د اسرو دامیدونو ربــه
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

یوه آرزووه چې به تل راسره مله غوندې وه
تته، مجهوله چې احساس یې شوه، بیان به نه شوه
او س چې کوچه هغه زما د زړه پردې راسپړي
کله ششنیزې کله تول ځان په سنګړو وهي
زه یې داوښکو د پردې شا ته اکټونه ګورم
او تا ته وایم د اسرو دامیدونو ربــــه
زه خبر نه وم چې ما ته دې جنت راکړی

د بتوسیل وربادې تیت تیت پروازونه کوي
لکه چې جت ځان برابر کړي د ناستې له پاره
خوټکنې شي بیرته جګې شي شینکي آسمان ته
داسې شرنګیږي لکه ناوې چې پاولې شرنګوي

شماره	عنوان	مخ
۲۱-	د ناهید د شهادت په کالیزه	٦۲
۲۲-	د احمد شاه بابا په یاد	٦٤
۲۳-	د آزادۍ تلوسه	٦٦
۲٤-	خپلې ژبې ته	٦۸
۲٥-	ویر	۷۰
۲٦-	د یېږې د ستنېدو . .	۷۳
۲۷-	وښیه	۷٥
۲۸-	خپلواکي	۷۷
۲۹-	زمحبوبا	۷۹
۳۰-	د بدخشان مهاجر	۸۰
۳۱-	د شپې تنهایي	۸۲
۳۲-	د مجروح یاد	۸٤
۳۳-	هنرولی شاعرته	۸٥
۳٤-	له قلم سره خواله	۸۸
۳٥-	پردیتوب	۹۱
۳٦-	عبدالحق همایون مجاهد ته	۹۳
۳۷-	جفا	۹٥
۳۸-	د مور یاد	۹۷
۳۹-	د مهاجر خوب	۱۰۱
٤۰-	ترانه	۱۰٤
٤۱-	له خپل ځان سره زاراونیاز پای	۱۰٦

زه یې د لمرلاندې رنګین رنګین وزرونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې دامیدونو رببه
زه خبرنه وم چې ما ته دې جنت راکړی

چرته دزړه له کوم یوګوټ نه مې لمسون راځي
چې: هه، شپونکیه ! له دې کارې ځان لاهو نه سینه
بیا چې لاهو شې لامبو وهه کرار پر پوځه
یوه قطره شه غاړه ورکړه له همزولو سره
زه وایم زړه ته صبروکړه زه خوبونه ګورم
او تاته وایم دا سرې دامیدونو ربه !
زه خبرنه وم چې ما ته دې جنت راکړی

د بدخشان د سرو لعلونو دروګه هرځای ځیره
خو چا قلم قدرې کوکچې باندې ونه چلاوه
د کوکچې یو ځاځکی او به په لالو ورنه کړم
لالونه کاڼی دي پراته، کوکچه په مخ بهیږي
زه یې د هر ځاځکي په منځ کې جهانونه ګورم
او تا ته وایم دا سرې دامیدونو ربه!
زه خبرنه وم چې ما ته دې جنت راکړی

۱۳۵۲ فیض آباد - بدخشان

ګاونډي ته

مه وهه دا خواره ښځه مه وهه
بې له تا نه بله اسره نه لري
تا ته يې له نورو نه پناه دروره
بې د تا له غيږې وايه څه لري

دا اله او ښکو ده کې ستړګې وچې کړه
بس دی چې پلرو دې ژړولې دی
نور نو دا وېر جنه صحنه و نغاړه
د هر عمر تاریخ او خدائ و هلي دي

خلک په کړاو کړاو سپو ږمۍ ته ځي
ته د کور سپوږمۍ په تندر و نیسې
نور یې لاس تر غاړې مخ په هسکه وړي
ته یې د کوځې و له سر و نیسي

ښځه چې په کور کې ژړنې و یسم
دا لویه دنیا را باندې تنګه شي
دا د قضا عصر او دا زور فکر
کاشکې چې په ټولو باندې رنګه شي

چا ویل چې حق د نورو رو دی
دا به د پښتون له خولې وتلې وي
دوی کې چې کمزوری وي نو ودې مري
چا سره چې زور وي نو ښاغلی وي

دا د ځنګلي بنیادمانـــــو دود
موږ ه پښـتنو پوره سـاتـلی دی
دغه به نو نوم د پښـتونوالیـ ـوي
ځکه مو شهرت هره خوا تـللی دی

دا شکلي موجود چې تا ته کور کوي
دا ستا اندیوال دی، ستا مریی نه دی
تل یې خولګکی په ژړا ورلنه وي
داموجود خو ستا دلوبو شی نه دی

څنګو د پوالو نوکې دې بنده کړه
بیا دې سپین کفن ور باندې خپور کړ
ژلنده ژوندی دې هدیرې ته کړه
بیا دې نوم د دې هدیرې کور کړ

ته که په ایوب باندې میوند کـتې
پام کړه چې ملاله په سنګر کې وي
نور نور سنګرونه به لا وګـتې
دا دستوري نقش که دې سپرکې وي
ګذرګاه - کابل ۱۹۶۸

دخوشحال په لار

ورونښو روند به په دنیا نه وی مدام
ټول به درومون ګهیځ سبا ماښام

مرګی حق دی رغیدن موو رنه نه شته
یا په تخت یا په تخته او یا په بام

یا برېښتن لاندې پراته زنې تړلې
یا شهید په کربلا کې قتلِ عام

د چا نوم په خاینانو کې یادېږي
د ملنډو، د بېزارۍ د دشنام

د چا قبر په رنګینو جنډو جګ وي
په زیارت پسې یې ګلې تړي لام

مرګ ې حق دی، دریغه دا چې هسې مړ وای
چې وطن ټول نازېدای د ده په نام

چې د قام د پاره خپل ټټر غلبېل کړي
د شپانه ورته سر ټیټ په احترام

د سهار نسیمه لوړو غرو ته خېژه
د وطن په ننګیالو مې کړه سلام

وایه ستا سوله مېړاني نه لوګې شم
چې په وینو مو خوندي کړ ننګ د قام

ننګ غیرت نن په افغان باندې تمام دی
ما ته مه ستایه میړانه د ویتنـــــام

موږ په روس باندې نن هسې ناتار جوړ کړه
چې ماسکو کې مو په دوی کړ خوب حــرام

د سهار نسیمه ښه ښنـــده الـــوزه
ښکلوه د شهیـــدانو نســـکور جـا م

د غازیانو ببر سرو ږیرې ښکل کړه
ورتسلیم کړه دیوخوار شپونکی پیغـــام

دا چې نن ټوله دنیا په تاسو نـــــاز کا
په هر ځای تاسو یادیږئ صبح وشام

د وطن واړه زیږه په تاسو ویــــــاړي
ټول افغان له کندهاره تر باګـــرام

نن زموږ غرونه رغونه شاړ نه دي
د شهید په وینو ټوله دي ګلفـام

چا چې موږ سره ډغرې دې وهلي
عاقبت به هم رسواشي هم سرسام

خاوره نه ده دا سره زر دي چې تېرنه وځي
دا وطن دى دخالق ډېرلوى انعام

په دې غرونو چې ورځي لاس په نامه شي
په دې شاړوبې اودسه مه اخلئ گام

دا پښې يې لې خمتاپوش ټول اتلان دي
په شلېدلې خت يې مه غولېږئ پام !

که يې نر دى که يې ښځه ښاهد دى
ټول پاخه دي، دلته هيڅ مه غواړه خام

زور خوشحال دې اوس زموږ ننداره کا
چې د روس سر به کړو چټ مال يې ليلام

«څو اخلي له غليمه انتقام
مرد نه خوب کا، نه خواړه کا، نه آرام»
١٩٨٠

د پنجرې پرانګ

بره کې ستړکې بره کې لیکې په پنجره کې یم راګیر
د پنجرې میلې ولاړې، بره کې بره کې ګرچاپیر

یو ورو کې چاپېریال کې، د پرکار په شانې چورلم
لیونې خوبونه وینم، نه یې خیال شته نه تعبیر

بېګاه شپه مې ځان په خوب کې په يولوی ځنګله کې وليد
چې راويښ شومه پنجره وه، د سيل بېنو وبهير

هر بازو مې د زورکان دی، هره پله مې انرژيا ده
په وره پنجره کې ګير يم، څه خطا کوم مې تقصير

۱۹۷۸

کابل پلچرخي پله زندان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سریزه

قسمت راته په تهنده بل څه لیکلی وو، که نه ما د لیکوالۍ په اول سر کې د ځانه سره بخه کړې وه چې په پښتو ادب کې به دیوې داسې پانې دارولو تکل کوم چې په هغې کې د ژبې او ژوند ترمنځ اعتدال موجود وي. مانا دا چې هر څه یو ځل ولرې چې د ریښتونې تجربې سره سمې وخورې.

ما وې د پښتون شاعر تل روانې اوښکې به وچې کړمه او ورته وبه وایمه چې بار دیګر خپل درد په کراره ګاله او د یتیما نو کانې مه کوه چې په اېله شې پرنګ په ژړا وې. ما وې همزولو لیکوالو ته به ښواتې کوم چې زیاتې دې د غره د څوکو، د ګودر، د ښاپېرۍ وزمه پې مختوب نه ایدې یال نه جوړوې، بلکه مخامخ او بې رنګینو عینکو دې ژوند ته ستر ګې وغړوې. ما وې... ما وې....

سیند ته

که لاس درورمه چې څه ناز درکړم
ته مې د لاس له سره بهېږې

که خوله درورمه چې ځان خړوب کړم
ته مې د شونډو له خوا ښوییږې

دافغانانو غیږ روسانو ته

راشه چې داغرونه دي د هر قدم اوښار دي
ټاټه د وطن د اسمان ستوري انتظار دي
موږ هم په هسکه غږه سترا تګ ته ناست یو
موږ نه پوهیږو چې سرونه دي په کار دي

راشه چې مونږ هم همدې شېبې ته ډېر کتلي دي
تا په دې وطن کې ډېرې ونې بهــولې دي
دلته به د ټول جهان ميړانه څپل سيال وګوري
دلته مونږ هوډونه او لوظونه ازميېلي دي

ته د ماشينو نو او پولادو په ښېرو تـلل کوې
ستا ميړانه داده چې د زهــر و ورکول کوې
تاسو کې څوداسې کوم باتور هرګوره نه وينم
(چې)
کاڼي دې په لاس کې وي په ټانک باندې يرغل کوي

ته که زما سر غواړې زما هم پرې رضـا ده
دومره به دې يوه کړم چې مې سر کې څه سودا ده
دا چې بر بېر واېم دا په دې چې مې سر لوړ دی
ټوله روسيه که تېرې دا وکړې هم ورېا ده

دا سر غوڅېداى شي خو بنده ته ټيټېداى نه شي
دا سر د هغه دى چې په توپو تم کېداى نه شي
زمونږ د کوليوله بلې نه ستر کې نه سوځي
زمونږ عمرونه لنډ دي يوه ورځ او بدېداى نه شي

د هجرت لومړۍ هفته

د تاکال په ارباب روډ کې یوه کمره ده
په کې اوسمه یو زه پنځه بچیان

یو شلېدلی کټکی په کوټه کې پروت دی
زه پرې ناست یمه په لاس کې مې دیوان

په دېوال نږی اوبه کوز رابهېږي
اوري شرکنده دبام په سربارا ن

دشادر لاندي مي لورغېږ کې ویده ده
چي ساړه شي نسبلوي راپوري ځان

خدای خبردی دهغې مرغۍ له حاله
چي صیاد یې درې ورې کړله ځاله

زه به هم کله منګولې راپیدا کړم
زه به هم له خونکارانو غچ اخلم

په پردو به هم دناز پالنګ حرام کړم
خیر که اوس په میږتون باندې څملم

اوس مي ويني چي په خاورو کښل کېږم
داسي هم وه چي په سرو به دې تللم

مادمار سره یاري کړه ځکه خوار شوم
که نه خدای په خپله ځاله کې ساتلم

«په بچو مې يو ښامار ده بې زور ور دی
هېڅ علاج يې نه راځي صاحب کمـــا له»

زېړې داړې يې دوزخ ته دروازې دي
له سروسترګو يې بهېږي لعنتـــونه

له دنيا چاپېره کواړې واړې پروت دی
اچوي په بنيادم باندې رو بـونه

دا ښامار له آمو پورې غـاړې اوسي
نه پاړو پرې اثر کا ندی نه دمـــونه

په ناولې خوله دغم سندرې وايـي
په ببوزي يې لګي وهي اوږونه

په هر ځای کې چې دده خېره ښکاره شي
پرې بهېږي دسرو وينو لوی رودونه

نه دخدای په مخکه څوک ترې بچ کېدای شي
نه مرغه ترې الوتی شي پاس هـوا له

په دلويو غرو کور بټه کېسه واوره
د بې کوره مساپرو شنو توتيانو

د کابل خوږه مېوه مې پېرزو نه ده
په ناولو نابللو شورويانو

د سالنګ سړې اوبه مې نه لورېږي
د ماسکو په کرغېړنو ټېپوسانو

د مارغه به په مارغانو جرګه کېږي
زه راغلی یم جرګې ته د مارغانو

ټول راځي چې په وروکانو يې ولو[۱]
دا ښامار نه ايسارېږي په شوکانو

د بې وزلو تو تکيو تکيه خدای ته
چې يې جنګ دی له مردارو کجيرانو

يا به دا خوني ښامار په کانو ټپ کړو   يا به ورانه کړو د درستې نړۍ حاله

۱۹۸۰/۱/۱ پېښور

---

(۱) ترميهم بحجارة من سجيل - مبارک آيت ته اشاره ده.

د زماني پير

يو وخت د سولې وي | بل وخت د جنګ شي
يو وخت د مستي خندا | بل وخت د ننګ شي

کله د ګلو محشر سخ د بورا وي
کله د شمعو شغلې وار د پتنګ شي

چې د رنه درومي اشنا د شپیلۍ نول وي
چې د تا خواله درځي د رباب ترنګ شي

چې زړه ځوریږي سترګې شي دانارو دانې
چې زړه نشه وي سترګې پیالې د بنګ شي

یوې زخمي مرغۍ ته
کله زړه وځوریږي
کله د مرګ چپاو ته
سخت لکه سنګ شي

۱۹۸۱
پېښور

جنګ او ننګ

هغه باغچه دې تالا والا شي
چې پرې اتڼ د سور بورا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي

خو د سردار داؤد دکودتا او وروسته بیا دکمونستانو له تاړاک سره زموا او د وطني مطبوعاتیانو رابطه سسته شوه او زموا ارمان نیمګړي پاتې شو. یوه لسیزه پس دغه دی خپلې هاغه نیمګړې سندرې ته دوام ورکوم، مګر دغو لسو کلونو جنو ګالو که زموږ د فرهنګ او کلتور کور وسوخوړ پوالونه یې پاڅه کړل او زموا پیش بیني یې رښتیا کړه. که زموږ فرهنګیالیو شر وند ته نیغ کتلی شوای او کلیشه یې نه ترې جوړولی هیڅکله به یې د شعر ملوني د شعار په لوری نه وی خوشی کړي او د کښته طبقې، لوړې طبقې، خوار، بزګر، ارتجاع او انقلاب په اصطلاحاتو به نه بسیا کیدای.

د نواب صاحب مېښې به زموږ دغو یې کودتا نه جوړولی او خوار ګوجر به زموږ د ادب ځلاند اتل نه وای ګرځیدلی. له بده مرغه د مقاومت د تیرو لسو کالو ادبیاتو زیاته برخه لاهم په شعار ولاړه ده. فقط د کوتو په شمار کیسې او شعرونه دی چې د افغاني مقاومت رښتونی عکاسي کوي، اوس چې د هر کلي او جبهې د شهیدانو شمیر، دغرونو او دړګونو لارې ګودرې، د مجاهدینو دړلو خپل منځی اړیکی، د مهاجرو کمپونه، شمیر او اجتماعي اړانې تولې په احصاییې، فلمونو او اسنادو کې موجودې دي، بیاهم لیکوال په تصوري او خیالي سمبولونو غږېږي او یوځو محدودې طرحې لري. د دلاورخان د واده دریمه ورځ وه، جنګ ته لاړ، شهید شو او کوندې یې په یاد ژړل. په دري او پښتو دواړو کې هدا کلیشه یې

د وطن ښکلو ښکلو زلميانو
نن مو درشل ته دښمن راغلی
زموږ د خويندو پاکې لمن ته
د شهوت لاس وړي دغه ناولی

يو پلو سوله ده، غلامي ده
بل پلو جنګ دی، ورسره ننګ دی
پام کړه د سولې چې نوم وانه خلې
په موږ راغلی آيت د جنګ دی

١٩٨٢
ډنمارک

درقد مه هیروې!

دا نظم په ۱۹۶۳ع کې لیکل شوی و. هغه وخت کمونیستان په کابل کې پر مطبوعاتو مسلط وو. کله چې دا نظم په «سهوه» کې په «ژوندون» کې خپور شو، د سلیمان لایق تبصره دا وه:
« له دغه نظم نه داسې انګېرل کېږي چې ګوندې شوروي اتحاد به د نورو هېوادو د خاورې لاندې کولو ته ليبنـــــي وي.
حال دا چې د امریکا پر خلاف، شوروي اتحاد تراوسه د چا یوه لوېشت خاوره هم نه ده اشغال کړې»
درقد د پنج (آمو) په سیند کې پروت یو ټاپو دی او دا آزاد شعر هاغلته د سنځلو د ځنګله په مینځ کې لیکل شوی دی.

زما په قبر به لاله زرغون وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته لرې د سیندونو غېږ کې
یو تور ځنګل دی دا غرنو ونو
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
چې یې اوبه درنه رالاندې نه کړي

د "پنج" اوبو کې لاهو شوی ځنګل
ما یې خونکارې ژامې ولیدلې
چې پرانستلې دي درقد له پاره
دا پنځه سرې نښامار زه پېژنم

لا مار دیګر وي چې په خلکو شپه شي
شپانه په بیره رمې کورته بیایي
هر څوک له کمو ځنګلو لار چپوي
دا شین ځنګل په ځناورو سپاري

د تورې شپې کېږدۍ چې وغوړېږي
تورې بلاوې په درقد خورې شي
نهنګان ورو ورو په ساحل ورخېژي
زمري راوځي د ځنګله له تیارو

د سور لنډيو آوازونه راځي
خوسيږي له ويرې خواب نه ورکوي
توره تياره کې د هربوټي له شا
د ځنا ورستوګې رڼې ځليږي

له هرې ونې نه شيبه په شيبه
د کونګ ويرجنه سانده غوږ ته راشي
له هرې خوا نه خونړۍ سيندونه
لکه بارشوي اوښان ويرېږي

ما هندوکش په سرمزلونه کړي
شپې مې په ښځو کې خوبونه کړيا
خود در قدفضا څه بل شانې ده
زه يې په ځان باندې شکمن غونډې کړم

لکه اشنا چې زه هير کړی يمه
يو له نظره غورځيد لى تما پو
د حوادثو په منګولو کې ګير
له وطنوالو نه په ځنګ پاتې دی

زما په قبر به غاټول شين وي
خو زما دا خبره مه هېروئ
چې هلته ليرې د سيندونو غېږ کې
يو تور ځنګل دی د اغزنو ونو
هغه ځنګل د افغانانو مال دی
زما د قبر په غاټول مو قسم
چې يې اوبه درنه رالاندې نه کړې

١٩٦٣
د درقد تاپو - تخار

د پېړۍ چلنج

بیا وشول په موږ باندې غږونه د پېړۍ
بیا زلمو راواخیستل ټوپک او ګردنۍ

بیا نجونې د لوړو غرونو څوکې څارې
بیا کوز راوریږي په لمن لمن بڼلې

خپلواکي

اسمان په ستورو ښکلی ښکاريږي
ښکلی اسمان وي او رانه ستوري
شولې چې توري شي کلالی شي
چې يې کړي وږی شمال ته ښوري
معشوقه هله د زړه کترې خوري
چې ته شرمېږې، دا درته ګوري

هسې بېدريغه وبله خوند کا
چې يو وطن وي بل خپلواکي وي

وطن په هرڅه باندې کشمیر دی
خوږموږ خلکو ورپسې زړه ځي
بورې شوې میندې، کونډې شوې ښځې
خوځوانان جنګ ته لا په ډاله ځي
که په پښو شل وي، ځي په خاپوړو
که لارې نه وي، په غرو راغه ځي

هسې بېدرېغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

هغه واده دې په وير بدل شي
چې په کې غږ بنده نڅا نه وي
هغه ژوندون دې د مرګ مېلمه شي
چې واک د بل وي او د تا نه وي
هغه باغچه دې تالا ترغۍ شي
چې په کې شور زوږ د بورا نه وي

هسې بېدرېغه وبله خوند کا
چې یو وطن وي بل خپلواکي وي

١٩٨٢

ډنمارک

زما محبوبا

نیمه شپه کې راغله بوندې سترګې سره لاسونه
غوږې توري څمنی لکه سوی درمندونه

تمیک یې په تیارۍ کې پړکیده لکه برېښنا
شرنګ یې د پاولو لکه کړچنده ټانکونه

مستی روې سترګې یې د روس په شان خونکارې
وروځې یې چړې وې راکږې په یاغي زړونه

۱۹۸۲
ډنمارک

عنعنه روانه ده، سرې ته نا امیندی ودرېږي چې په لسهاو ناولونه، ډرامې سفرنامې خارجیانو په همدغو لسوکالوکې د افغانانو د ژوند په باب لیکلی او له ځینو نه یې فلمونه ډک شوي چې په لکهاوکسان یې لولي اوګوري یې، مګر حتی یو داسې ناول، داسې ډرامه، داسې شعري مجموعه افغانانو نه دی لیکلی چې لوړه ادبي ځلا دې ولري. هماغه سیاسي شعارونه دي، هماغه خیالي محدودې طرحې دي، هماغه زوړ مطرب خانه خراب دی چې د ساز په ځای کانګې کوي.

زما د نظمونو مجموعه هم زما د نورو یاد ښتونو سره په کابل کې باد یووړه، یوڅه مې چې په یاد وو، هغه مې دلته رااخستي او پاتې مې څه په پېښور کښې او نور په ډنمارک او امریکې کې ولیکل. زما هر نظم زما په خپلې تجربې بنا دي او حتی «خوب ویم عالمه» هم زما رښتیانی خوب دی چې اوس یې هم لړ ترلږه په میاشت کې یوځل ویم. زما هر نظم په حقیقت کې یو تصویر دی او د ومره زیات احساسات او زما خپلې انګېرنې په کې نښته. مګر زما انګېرنې د موضوع په انتخاب کې دي. هره هغه صحنه چې را ته مهمه ښکاره شوې، چې یو لوی معنوی ارزښت مې په کې نغښتی لیدلی، هماغه مې تصویر کړې ده، په دې امید چې پرېږده چې بخیله د نظم څېره زما نړی لید، زما غم او ښادی او زما د نیا ترسیم کړي.

دبدخشان مهاجر

کوکچه بهيږي غاړي ترغـــاړي
دکوچ اوښانو، کږې کږې غـاړې
له ايلبندونو، کوز راشيوه شــول
هې کډې لاړې ، هې کډې لاړې

کوچانی ولېښن خوزړه یې پرېښــود
د زړګی غوټه یې خلاصه نه شوه
ځان ته یې دېرې تسلی ورکــړې
خو یې یوه خوا ترلاسه نه شوه

دا د سکروټو دلی اورونه
د چټو پېغلو سپین مرووندونه
په ښو ځوانانو دې خدای پیرزو کړي
مونږ خو یې ورک کړو له وطنونه

۱۹۷۹
کابل

د شپې تنهایی

بچيان ويده ښه دی　　برقونه مړه ښه دي
له خپل زړګی سره مې　　د زړه خواله ښه دي

دزړوند یادونه دی   چې په تموپو راځي
ورځ لا یوځه سودکي وي   غم مې په شپو راځي

دتوروزلفو داستان   رانه د تورښامارشي
دخیالي سترګو بیان   رانه د سره انګارشي

قلم یاغي شي رانه
زما خبر نه لیکي
هرڅو پرې بیره کوم
خودی يې ژر نه لیکي

۱۹۸۸ ع
ویرجینیا

دمجروح یاد

اوښکې د بڼو څوکو ته راغلې لږ بانه غواړي
رژنده ګلاب ته وږمه هم د سیلۍ خور شي
ما په ماشومتوب کې هم له شګو سره لوبې کړې
نن کورونه جوړ کړي خو سبا ته بیا نسکور شي

ویرجینیا ۱۹۸۸

همزولي شاعر ته

ته د دنیا د کاروانونو جرس — د تمدن د قافلې زنځیر
ستا له تېز بینو سترګو ځان ساتي — د هندوکش د آسمانونو کجیر
ستا د وزر لاندې خوندي دی د بشر — لکه تکیه وي مریدان چې په پیر
هو ته شاعرې قلم سم چلوه

چې یې د چا د لاس رانجه خوړلې | دهغه غږ د تا له سېتوني راځي
چې په کړاو په بې کسۍ کې ومري | دا ستا قلم یې ځنازې پسې ځي
چې یې برچه په سینه ننوځي | ستا له قلمه ورته آخ وځي

هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

ته سېلابونو ته وبالې جوړوې | ته غورځنګونو ته سامان ورکوې
یوه دنیا درته ذره ښکاري | په یوې او ښکې پسې ځان ورکوې
چې یې اظهار له چا نه وي پوره | هغه احساس ته ته بیان ورکوې

هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

ستا له قلم نه دنیا کې جوړه | چا ته ښامار چا ته دلاس امسا
چا ته دیوه چا ته په زړه کې چاړه | چا ته خوږه کیسه د تللي اشنا
د چا د ټک زړه د تنها کو دارو | په چا دوزخ نه رالویدلې بلا

هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

په توره شپه کې د سباز یری | شوګیره خلک یې له تا غواړي
ټوله دنیا چې ورته سور اور شي | د زماني یتیم په تا ژاړي
چې ځناور په نړیوالو را شي | ای قلم واله اول تا داړي

هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

دږوند د ذوق پاکه هینداره ته یې — ته چې خندا کوې دنیا خاندي
ته نو چې خاندې ریښتینې خانده — که نه تاریخ به بیا په تا خاندي
د تا د هرې او ښکه کې په اشر — یو زر ګلونه به سبا خاندي
هو ته شاعر یې قلم سم چلوه

د ننګې ماڼۍ چې تا خوشحاله نه کړي — په رژولو یې قلم چلوه
چې لا تر اوسه ایسار شوی نه وي — ته په مستۍ وربانديې دم چلوه
چې بشري لويي په ځکه وهي — هسې بامونو باندي بم چلوه

۱۹۵۸
خان آباد

له قلم سره خواله

له قلم سره مې بیا کوټې خوږې شوې
په ګونګې خوله مې بیا جوړې ترانې شوې

په مړژواندي تن کې بیا ساه راغږیږي
بیا را یاد دې لس کلنې خاطرې شوې

بیا مې خلاصه کړله ژوند ته نوې لاره
بیا مې څانګو دارمان کې پاڼې شنې شوې

وچو مراندو د زړګي کې وینه راغله
دا زړې وچې ویالې ورو ورولمدې شوې

عقل ویلې چې قصه دې لاړه راغله
د ماجرې چې چېرته بنې شوې هلته شپې شوې

سره هاتي چې په شنه بڼ یوځل پښې ایښې
د هغه ګلبڼ ریښې ترمې تسمې شوې

عقل داویلې خوزره په بله سر و
د دې دوو ترمینځ مې خوړینې حوصلې شوې

عقل پښې ایستې خوزره لکه دغر و
زړه مستې کړه چې په عقل زلزلې شوې

که دروس هاتي هرلورې ته یرغل وړه
سمه غرکه دکړو منارې شوې

امید دی چې زلمي شاعران هم همداعنعنه وروزي او همدا سبک په پښتو ادب کې رواج شي .

سعدالدین شپون

۱۹۹۰ - اپریل

پېښور

خو چې ګوري خره کې افغان لاشته دی
دزړګي وينې ی سرې نه شوې لاسرې شوې

که وطن موشولو ډک له بورو ورارو
په غليم موهم دزړه سخې پښې شوې

که يونيم مليون زموږ نه په کې لاړل
د دښمن په خوله کې هم خاورې ايرې شوې

چې په شوبلو په تمانګونو سپاره راغلل
په ستنه يې اوس رواني قافلې شوې

سترګې سرې، مرکونده ماتې، جنګ بايللی
نوم برباد، هدف تباه، خاورې په خولې شوې

واشنګټن
۱۹۸۹ ع

پردیتوب

اشنا د ځنګو غرونو کچیر غواړي
زما وزر په دنګو ماڼو سوزي
زه هسې مکروړیان کې ورته میشت یم
په دې انګړکې بل مرغه الوزي

نه داد کودرغاړې ته روانه
نه زه هسکه شمله بوړی په غاړه
نه زه لکه باښه شنا مې خېژي
نه دا جګه الوزی لکه خراړه
موږ دواړه په دې ستېج کې نا بلد یو
موږ هیڅ یو پخپل نقش نه پوهېږو
لیکوال راته پردی ډرام لیکلی
او موږ لکه کالبوت لړو برکېږو
موږ دواړه پخپل نقش نه پوهېږو
د دووکسواتڼ دی په میره کې
د مړو هډوکي یو په بل لګېږي
بړوې راته خاندي هدیره کې

۱۹۷۶
کابل

عبدالحق "همایون" مجاهد ته

سره د ولې دې پرېښوه چې وطن درباندې غږ کړي
جار دې تر ببرې ږيرې سل ځله شپونکي شي

ناوې د وطن دې په تا فخر کړي لالیه
مورې بوره مه کړې څوک چې تا غوندې زمرې شي

تو له جبار خیل دي اوس پګړۍ جګې شملې وړي
دوی کې همایون چې لکه ستوری ځلیدی شي

نن په توره بوړه په روسانو کړي مور بوره
بله ورځ پغمان کې د پرچم میلمه مړګی شي

تول وجود پرهار دی په کولیو لګیدلی
یو ځای يې روغ نه دي چې داشنګه په لار تلی شي؟

څومره چې د توپو او بمونو محشر جوړ وي
هومره همایون ورته بیباکه توریالی شي

مه مرې مجاهده د دې جګو غرو کور بته
ستا له سرو منګولو دښمن کله خلاصيدی شي

ستا په برکت خلقي پرچم یو له بل وژني
روس ستا له هيبته سر وهي روغ ليونی شي

توره او میړانه او بنګلا په تا ده ختمه
دا زما قلم دې هم د تا د مخ لوګی شي

پېښور ۱۹۸۱

جفا

پرېږده چې راوزېږي دا جنګ غر
دا د ګنهګارو ګلی لاندې کړي
دا دځان وژونکو او دغلو ډله
سل خرواره ګاڼې چې وربانديې کړي

ده ورته ویل چې ګناه مه کوئ
دوی په بې دردۍ له کلي وشاړه
چا یې د پګړۍ زنځۍ په غاړه کړه
چا سپي ورشکارل چې ټول یې وداړه

وینې یې په سنګلوخ ورماتې وې
کلي نه روان وشا ته یې نه کتل
ده ویل چې دا به پښتانه نه وي
ها چې پښتانه وو څوک یې نه رټل

پوندې یې سپینګیرو ورخیرلې وې
دی په دې امید دلته راغلی و
لاره کې یې لوږې تیرې کړې وې
دی یو لوی پښتون واو ښاغلی و

۱۹۷۵
کابل

دمور د مړینې د خبر په اورېدو:

دمور یاد

دګلو به محشر و خوکه وربځې لنډ سخې وای
که ستا د ښکلي پېغله وای زما به هم مستي وای

دتا د لاس سا به وای چې به تبې مې خوړلای
دتا د مینې اور وای مورې زه ورکې ستې وای

ماښام مې دکټوې نه د شودو سوکې څښلای
سهار مې د مېتې په ترشکن کوچو سبناری وای

دردونه کړاوونه مې ګړې ورځې ګالای
خوشېپه ستا په زنګون مې سر کېښوی د لاسایي وای

نه پوهه نه قلم وای ، نه مکتب نه لیک اولوست وای
تالاس په سر راشکلی ، ماخپل زړه درته سکښتلای
سره دژمي شپه وای ، د نغري خوا ته ناست وای
په ورو ورو په منږو دې افسانې راته کولای
په ونو په اغزو مې مخ او پښې زخمي زخمي وای
د تا په جادوګرو ګوتو ټولې رغیدلای
دیوان وای ، ښاپیرۍ وای ، او ملوک وای او بدرۍ وای
د تا د ښکلي غږ نه د اسرارو زوږ راتللای

یه موري زړې موري ! ماخو ونه لیدی موري
ته لاړې درنه پاتې شو ښکلې ستا نازولي
یه موري دنیا اوروه زه او ته پرې خبر نه وو
اوس ګورم هسکیږلي ، کړیدلي او ترټلي

یه موري په زړه پورې ، یه درنې ښتنې موري !
د تا دخنازې کټ نورو یوړو هدیرې ته
خبرشوم چې بونو موکوډل کړه دړې ورې
اوتا پناه وروړې وه د بل کلي دېرې ته
خبرشوم چې زما فوتو دې هرچا ته ښودله
زوی ګی مې راروان دی خلکه دې بلې پیرې ته

دکلي خلکو ویلې چې بوډی لیونی شوی
ژړا ته تور تم وایې، سپین سبا تورې تیارې ته

چې سا دې ورکوله زما نوم دې یادولو
تا وې چې آخري دیدن دزوی شورانه پاتې
ادې خو مجبوري وه، بې دردي وه بېوا کي وه
دې سره ښامار په ډېروکړې ښا یسته مینې میراتې
زه لاړم چې د سره ښامار علاج چېرته پیدا کړم
زه لاړم چې په ټوله دنیا وکړم ښــــواتې
دنیا ته کوېوان وشلوم، بېلګی ورته ښکاره کړم
دا داړې د ښامار دي نه شکرې نه نبـــاتې
که زه یې درنه کوټ کړم او زما سره یو نه شوی
قسم په ذوالجلال دی که به یو شئ ورنه پاتې
یه خلکه سره ښامارته خره کې افغان پیدا دی
تاریخ کې دي راغلي چې به روس خوري دلته ماتې

ادې! یو نیم ملیون مې په وطن کې شهیدان دي
په هرکاله کې ویر دی او په هرکلي کې ساندې
ملیون شپږ شلی نه دي چې په کوتو دې شمېرلی
یو نیم ملیون لس لکه دي پنځه لکه پرې باندې

لوبه

ټوکه يې ونه ګڼې د ژوند او مرګي لوبه ده
بله لاره نه لرو يا مرګ دی يا مو سوبه ده

يا به شين خال د سره ښامار له داړو بېچ کړمه
يا مې په سرو وينو دا نړۍ ټوله خړوبه ده

ویرجینیا ۱۹۸۵

پرخه په ترخه

د شعر مجموعه

سعدالدین شپون

۱۳۶۹

پرخه په ترخه

«د شعر مجموعه»

سعدالدّین شپون

۱۳۶۹

د وفا مشر:

پروفیسر عبدالرسول امین

دکتاب نوم: پرخه په ترخه
شاعر: سعدالدین شپون
خپرونکی: د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه (وفا)
دچاپ کال: ۱۳۶۹ ش (عقرب) ۱۹۹۰ع (نوامبر)
دچاپ ځای:
خطاط: نورالدین هنریار
تیراژ: زر ټوکه
ګڼه: ۵۲

اهداء

ډاکټر محب الله نکته ته چې مړینې

یې زه او "خالص" نیمه خوا کړو.

فهرست

شماره	عنوان	مخ
۱ -	سرېزه	۵
۲ -	لوبه	۹
۳ -	زه د شپې له تارېکۍ سره...	۱۰
٤ -	دافغانانو غبرګ روسانو ته	۱۳
۵ -	دهجرت لومړۍ هفته	۱٦
٦ -	د زماني پېر	۲۰
۷ -	جنګ او ننګ	۲۲
۸ -	درقدمه هېروئ	۲٤
۹ -	د پېرۍ چیلنج	۲۸
۱۰ -	دهجرت شپږم کال	۳۰
۱۱ -	ماشوم متوب	۳۲
۱۲ -	شیطان	۳۵
۱۳ -	دوطن له ورېځو سره خواله	۳۸
۱٤ -	د روسي عسکرو د تلوو ځ	٤۳
۱۵ -	د مجاهد بې وفا یار	٤۵
۱٦ -	دکوکې د سیند پرغاړه	٤۸
۱۷ -	ګاونډي ته	۵۱
۱۸ -	دخوشحال په لاره	۵٤
۱۹ -	د پنجرې پړانګ	۵۸
۲۰ -	سیند ته	٦۰